# دا ښه خبر دی

## نورو ته هم ووایه

### د پیل ټکی

د ژوند د سترو خوښیو څخه یو، نورو ته د ښه خبر ورکول دي. د مثال په توګه، کله چې یو جوړه خپلو ملګرو او خپلې کورنۍ ته وايي چې په نژدې راتلونکې کې به د لومړي اولاد خاوند شي، یا ډاکتر خپل ناروغ ته ووايي چې د ازمویني نتیجه د قناعت وړ ده.

- ایا هغه وخت په یاد لرئ چې د نورو سره مو د خوشحالی خبر شریک کړی وي؟
- دا خبرمو د لومړي ځل دپاره د چا سره او په کومه طریقه ویلې دی؟
- د خوشحالی د خبر په ویلو سره تاسو څه ډول احساس درلود؟

### بحث او خبرې

مونږ ډېر ښه خبر نورو ته د شریکولو دپاره لرو.

هغه سفر چې مو په ګډه کړی دی، فکر وکړئ. ایا دا پخپله حیرانونکی خبر نه دی؟

1. مونږ کولای شو خدای وپیژنو او دهغه په حضور کې وخت تېر کړو.
2. مونږ د خدای زامن یو، او دا زمونږ هویت دی.
3. مونږ اسماني پلار لرو چې مطلق قادر دی، خو په عین حال کې غواړي چې له مونږ سره په اړیکه کې وي.
4. عیسی راغي چې مونږ وژغوري،
5. مرګ او د عیسی پاڅون د تاریخ د ټولو نه مهم داستان دی.
6. مونږ کولای شو د عیسی پیروان شو.
7. خدای خپل روح راولیږه چې مونږ له هغه نه ډک کړي.

که ستاسو ملګري او اشنایان هم ایمان راوړي او ټول دغه شیان تجربه کړي، د هغوی په ژوند کې به څه پېښ شي؟

بل کوم ښه خبر د خدای په اړه ستاسو فکر ته راځي که نور کسان هغه واوري او په هغه ایمان راوړي، ژوند به یې له امېد او خوشحالی نه ډک شي؟

### اصلي مفکوره

مونږ ټول کولای شو ښه خبر د ټولو سره شریک کړو ـ د دې کار دپاره اړتیا نشته چې کوم ځانګړی صلاحیت ولرو.

د عیسی هر یو پیرو کولای شي چې د عیسی ښه خبر نورو ته ورسوي. د دې کار د پیل دپاره اړتیا نشته چې کومه ځانګړې ازموینه تېره کړو یا په کوم ځانګړي ټولګي کې ګډون وکړو. د نورو سره د ښه خبر د شریکولو دپاره ضروري نه ده چې د کلیسا رهبر، چوپان او یا ارواح پوهان واوسو.

که خلکو زمونږ خبرې رد کړې، نو څه وکړو؟

عیسی خلکو ته د هغه نه د پیروي کولو په خاطر په نرمی بلنه ورکوله او څوک یې په زور د فشار لاندې نه نیوه، نو ځکه مونږ هم باید په دې برخه کې د عیسی په شان شو او په دې شکل خلکو ته د هغه نه د پیروی بلنه ورکړو. په پیل کې کېدای شي خلک زمونږ خبره ونه مني او حتی د دې امکان شته چې زمونږ سره دښمني وکړي. هغو کسانو چې نن په مسیح باندې ایمان راوړی دی، همدې کسانو په پیل کې هغه رد کړی ؤ.

ټول هغه کارونه چې مونږ کولای شو سرته ورسوو، دا دي چې د ښه خبر تخم د خلکو په زړونو کې وکرو او وروسته بیا

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

دعا وکړو، چې خدای دې تخمونو ته وده ورکړي او د خوشحالۍ او ژغورنې میوه د هغوی ژوند ته راوړي. زمونږ کار دا نه دی چې خلک وژغورو، یوازې عیسی کولای شي چې خلک وژغوري. زمونږ کار یوازې دا دی چې د عیسی ښه خبر د خلکو غوږو ته ورسوو.

## په کلام باندې تعمق او غور

دا ایتونه ولولئ او واضیح کړئ چې د عیسی سره شاګردانو یې وروسته د لومړني کتنې، څه وکړل.

- یوحنا ۱: ۴۱-۴۲
- یوحنا ۱: ۴۵-۴۶
- یوحنا ۴: ۳۹-۴۲

دې کسانو لاهم پوره پېژندنه د عیسی په هکله نه درلوده، خو په همدې حال د عیسی پېژندنه یې نورو ته د هماغه پیل نه وکړه. مونږ هم کولای شو همداسې وکړو.

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

**د عیسی ښه خبر د کومو کسانو سره کولای شو شریک کړو؟**
مونږ داسې کسان پېژنو چې د عیسی د ښه خبر اورېدو ته ډېره اړتیا لري. کولای شو د ښه خبر شریکول له همدې کسانو پیل کړو. که تر اوسه مو دا کار نه وي کړئ، لاندې ټکي به په دې برخه کې تاسو سره مرسته وکړي:

- له تاسو نه هر یو د لسو کسانو د نومونو یو لست چې پېژنی تیار کړئ. دا کسان کېدای شي ستاسو د کورنۍ غړي یا ملګري وي، او یا هم بل څوک

چې همدا اوس ستاسو په ذهن کې دي.

- دا لست د یو بل سره شریک کړی او بیا د پنځو دقیقو دپاره په دې لست کې د ټولو دپاره دعا وکړی.
- د روح القدس نه وغواړئ چې تاسو ته جرئت درکړي او مناسب فرصت رامنځ ته کړي تر څو د هغوی سره د عیسی په هکله خبرې وکړئ.

**څو دقیقې فکر وکړئ او په خیر سره وګورئ چې څه غواړئ هغوی ته یې ووایئ.**
یو ه ډېره ښه ستلاره چې د عیسی ښه خبر د نورو سره شریک کړئ، دا دی چې خپل د ژوند داستان او هغه کار چې عیسی زمونږ دپاره کړی دی هغوی ته ووایو. تا سو کولای شی چې په لاندې درېو ساده او لنډو ټکو خبرې وکړئ:

1. ووایئ چې ستاسو ژوند د عیسی سره د پېژدلو مخکې څنګه ؤ.
2. هغه ته تشریح کړی چې تاسو څنګه د عیسی سره اشنا شوی.
3. د هغه سره یې شریک کړئ چې ستاسو ژوند څنګه بدل شو.(کولای شئ د هغو ټکو نه چې تر اوسه مو زده کړي دي، کار واخلئ.)

د لسو دقیقو دپاره د هغه څه په اړه چې، وایئ خپل ځان تیار کړئ او همدا درې ساده ټکې وکاروی.
کوښښ وکړئ چې په پیل کې ټولې خبرې مو د درېو دقیقو څخه زیاتې نه شي ـ یعنی هر ټکي ته یوه دقیقه وخت وټاکئ.

اوس یې یو او بل ته هم تکرار کړئ.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

په ۲۴ راتلونکو ساعتونو کې، د عیسی ښه خبر لږ تر لږه د یو کس سره شریک کړئ:

- دعا وکړئ چې خدای مناسب فرصت تاسو ته جوړ کړي.
- اقدام ورکړئ. د دې کار دپاره کولای شئ لاندې نظریات وکاروئ:

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

- د خلکو ليدني ته لاړ شئ يا د تليفون يا اينترنيت له لارې هغوی سره اړيکه ونيسئ او د خپل ژوند شهادت هغوی ته ووايئ.
- يو جلد نوی عهد هغوی ته د سوغات په توګه ورکړئ. هغوی ته ووايئ: "زه د دې کتاب له لارې د عيسی سره اشنا شوم. تاسو هم کولای شئ د دې لارې هغه سره اشنا شئ."
- د ويديويي کليپونو يو لينک يا سرود يا ستاسو د علاقې وړ ايت هغوی ته ورولېږئ او ورته ووايئ: "غواړم د دې لينک په اړه له تاسو سره خبرې وکړم. عيسی زما ژوند بدل کړ."

* په دې اړه خپلې تجربې د يو بل سره شريکې کړئ.
* که څوک تيار دی چې خپل زړه مسيح ته وسپاري او هغه د خپل ژوند د څښتن په توګه قبول کړي، يوه لاره دا ده چې لاندې دعا تکرار کړي. دا دعا د نوي عهد د افغانستان د پښتو د ژباړې په پای کې هم شته ده. بيا کولای شئ د هغوی سره د" سفر "د ګامونو په کارولو سره په شاګرد جوړونه کې مرسته وکړئ.

دعا

'' څښتنه، اقرار کوم چې زه ګناهګار يم. اعتراف کوم چې زه په خپل قدرت او يا خپل نيکو کارونو نه شم کولای وژغورل شم او خلاصون ومومم. ايمان لرم چې ته د زمونږ د ګناهونو په خاطر په صليب باندې مړ شوې، په قبر کې کېښودل شوې او وروسته له درېو ورځو نه د مړو څخه پورته شوې. ايمان لرم چې ته ژوندی يې او اقتدار لرې زما ګناهونه وبخښه او د خدای په حضورکې ما بې ګنا وګڼه. زه د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه کوم ''
او غواړم بېرته راشم او ټول زړه او خپل ژوند تاته سپارم. وعده کوم چې د خپل عمر تر پايه له تا څخه پيروي کوم، او ستا د ارادې سره سم ژوند کوم. له تا نه غوښتنه کوم چې ما ومنې او د خپلې وعدې سره سم ماته نوي ژوند را وبخښې. له دې امله چې زما دعا دې واورېده، شکرکوم. آمين.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved